بســــــــــــــــمل

۲۸ می ۲۰۱۲

# ما خو وېل، چې تباه لیک ترون دی

**ناټو دستراتیژیک ترون تصویب د وینو په تیولوولمانځه؟**

**دوه اونی مخکې مې دستراتیژیک که تباه لیک ترون؟ تر سرلیک لاندې یوه لیکنه کړې وه هلته مې دترونونو په اړوند دجانبینومتقابل درناوي اوحقوقي موقفونو ته اشاره کړې وه .**

**دیاد تباه لیک ترون دتحمیل لپاره یو نیم کال کېږي، چې ګمارل شوو ډېدورچیانو په نه ستړي کېدونکي ډول شپه اوورځ نغارې وغربولې.**

**چابه چې اعتراضیه لیکنه یا غږ کاوه نومړو ډېدورچیانو به هغه ایران او پاکستان پلوه باله اوس یې هم بولي .**

**د ډېدورچیانو قلمونه په وچېدو او مرۍ یې پوره کېنستې تر څو دخپل پلرني ملک واک پردیو ته ورکړي هغه وه چې پرون دجګړې خپلي افغانستان مقننه ارګان؟؟ یاد تباه لیک ترون تصویب کړ .**

**د خپل ملک دښمنو وکیلانو له تصویب څخه لا څو ګړۍ نه وې تېرې ، چې سوله ساتو؟؟(سوله ماتو) ځواکونو دلویې پکتیا په ګرده ځېرۍ کې اته کسیزه کورنۍ پخپلو لېونیو او انسان دښمنوپیلوټانومیراته کړه.**

**مغرورې ناټو سیموالو او نړیوالو ته وښوده، چې دهیڅچا باک هم نه لري هر څه یې چې هرځای زړه وغواړي هغسې به کوي .**

**زه اوس د پردیو ډېدورچیانو ته وایم ، چې ستاسو دمقننه ارګان؟؟ یو نر خو دې اوس ناټو ته ووایي، چې دا ظلم مو ولې وکړ؟**

**آیا هغه ستاسو په اصطلاح د ستراتیژیک ترون لمانځنه مو دبېګناه وینو په تیولو وکړه؟**

**دیادولو ده، چې کله حامد کرزي دنوبل له جایزه ګټونکي مستر اوبا ما سره یاد ترون لاسلیک کړ دوه درې ورځې لا نه وې وتلې، چې سوله ماتو دهېواد په څلورو ولایتونو کې له ۲۳ بې ګناهو کسانو څخه زیات افغانان دښځو او ماشومانو په ګډون له خاورو سره خاورې کړل.**

**دوینو لېښتي وبهېدل خو دپردیو ډېدورچیانو یوه جمله هم پرې ونه لوروله.**

گرانو خويندو اووروڼو!

زيات وخت مو نه نيسم نورڅه به ددې ليکنې په بله برخه کې تاسو ته عرض کړم خو اوس په لاندې ډول ډېرونی عام وژنې جريان تاسو ته دآزادي راديو لخوا وړاندې کوم:

۲۰۱۲-۰۵-۲۷

## ناټو په پکتيا کې ۸ کسيزه کورنی ميراته کړه

په پکتيا ولايت کې د ناټو ځواکونو د تېرې شپې د هوايي بريد په اړه چې ويل کېدل شل تنه وسله وال طالبان پکې وژل شوي، اوس د پکتيا ولايت حکومتي مسؤولين وايي چې وژل شوي ټول اته تنه او په عين وخت کې ملکي او بې گناه خلک دي.

د پېښې قربانيان د يوې کورنۍ غړي دي، چې پکې شپږ تنه ماشومان يوه مور او يو پلار شامل دي او د همدې سيمې په اصطلاح ټوله کورنۍ ميراته شوه، خو دا هم تر دې دمه معلومه نده چې وژل شوی ماشومان څومره عمرونه لری او په دوی کې څو نجونې او څو هلکان دي.

که څه هم له پېښې وروسته د پکتيا ولايت يوې حکومتي سرچينې د ناټو له خولې ويلي و چې په گرده څېړۍ ولسوالی کې يې په هوايي بريد کې شل وسله وال وژلي، ولې لا هماغه وخت د سيمې خلکو وژل شوي کسان بې گناه او ملکيان بللی و

د پېښې ځای د گردې څېړۍ ولسوالی اړوند د سوريخېلو سيمه ده، چېرې چې د وتلي طالب قوماندان جلال الدين حقاني خپل خپلوان او تربرونه اوسي.

د پکتيا د والي وياند روح الله سمون ازادی راډيو ته وويل چې په دې هوايي بريد کې ټوله کورنۍ وژل شوې.

سمون زياته کړه:

"موږ په دې پېښه کلک خواشيني يو، د دې کورنی مشر محمد شفيع نوميږي، نه نوموړی او نه يې هم د کورنۍ نور غړي د دولت مخالفان دي. د دغه پېښې څېړنه کوو او وروسته به يې جمهوري رياست ته هم ليکلی راپور ورکړو ."

نوموړي د وژل شويو په اړه وويل چې ټول بې گناه کسان دي، نه حکومت پلوي او نه وسله وال طالبان دي او دا عمليات د بهرنيو ځواکونو لخوا په خپل سر شوي او افغان اړخ پکې نه و همغږی شوی.

"موږ دا عمليات غندو، ځکه په دې اړه د افغان حکومت مسؤولين ندي خبر کړل شوي او دوی په خپل سره عمليات کړي، د دې عملياتو ټول مسؤوليت د بهرنيو ځواکونو دی. که څه دوی په پيل کې ځانونه ناخبره اچولي و، خو وروسته يې ومنله چې بريد دوی کړی او تحيقات به يې هم پيل کړي."

د ناټو ځواکونو په هوايي بريد کې دغه اته کسيزه کورنی په داسې مهال وژل کيږي چې تړې يوه ورځ وړاندې، د دې وژل شويو کسانو وکيلانو په ولسي جرگه کې په غوڅ اکثريت هغه سند لاسليک کړ چې د افغانستان او متحده ايالاتو تر منځ د ستراتيژيکو اړيکو په اړه چمتو شوی.

که څه په دې سند کې او د سند له تاييد وړاندې هم پر دې موضوع ډېر ټينگار شوی چې ناټو ځواکونه بايد د شپې لخوا او همدا رنگه د افغان مسؤولينو له خبرولو پرته عمليات ونه کړي، خو داسې انگېرل کيږي چې بهرني ځواکونه نه غواړي چې خپل بادارانه موقف له لاسه ورکړي.

راپور: لمر نيازی - پکتيا

**زمامخکینی لیکنه په لاندې لینک کې لوستلای شئ:**

**http://www.afgazad.com/Siasi-12/051312-Besmel-Tabaah-Liek-Taloon.pdf**

دیو بل خبر له مخې

***بهرنیو ځواکونو په کنړ کې ملکي وکړي وژلي***

Sunday, 13 May 2012 13:29

د کونړ په وټه پوره ولسوالۍ کې د بهرنیو ځواکونو په هوايي برید اوه ملکي وکړي وژل شوي دي. د سیمې اوسېدونکي وايي چې دغه برید نن سهار شاوخو ۹ بجې د یادې ولسوالۍ په دهوز درې سیمه کې شوی دی. دوی وايي چې په وژل شوو کسانو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي. دولتي چارواکو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي. دا په داسې حال کې ده چې ناټو او امریکايي ځواکونو پرون په بادغیس او هلمند ولایتونو کې دملکي وګړو د وژنې له امله بښنه غوښتې وه او ژمنه یې کړې وه چې تر وسه به د ملکي وکړو خوندیتوب ته پاملرنه کوي.

**درنو لوستونکو!**

**دا پاس مې د تباه لیک ټرون یو ژوندی مثال تاسو ته را وړی دی .**